مطبوعاتي اعلاميه

# افغان امنيتي ځواکونه؛ پر اوراسيا د امريکا د ولکې د ټينګښت لپاره د سون توکي

په افغانستان کې ناوړه امنيتي وضعيت او د نظامي او ملکي وګړو د تلفاتو زياتوالی سنا مجلس ته د امنيتي سکتور د وزيرانو د استجواب لامل شو. په دې ناسته کې د افغانستان د دفاع وزير په ښکاره تاييد کړه چې په تېره يوه مياشت کې د پوځ تر ۵۰۰ زيات سرتېري وژل شوي او تر ۷۰۰ زيات ټپيان شوي دي. د کورنيو چارو وزير هم د افغانستان د سنا په ناسته کې وويل چې هره ورځ د پوځ او پوليسو ۳۰ تنه سرتيري وژل کېږي.

په روان کال کې د افغان امنيتي ځواکونو د تلفاتو شمېرې دومره ټکان ورکوونکې او بې‌ساري دي چې د افغانستان دولت يې د پټولو امر ورکړی او له ډېر وخت وروسته دا لومړی ځل دی چې رسمي سرچينې د تلفاتو شمېرې بيانوي. که څه هم د قربانيانو د کورنيو نقل قولونه، د جګړې شدت او عملي واقعيتونه دا په ډاګه کوي چې د افغان امنيتي ځواکونو د تلفاتو کره شمېرې تر پورتنيو هغو څو برابره زياتې دي.

خو څه چې د بحث وړ دي، هغه دا چې د افغان سرتېرو وينه په کومه لار کې تويېږي؟ د اسلام په لار کې که په اوراسيا کې د امريکا د سيمه‌ييزو ګټو د خوندي کولو لپاره؟

کره واقعيت دا دی چې د امريکا او افغانستان تر منځ د امنيتي تړون له لاسليک وروسته امريکايي ځواکونه د جګړې له لومړۍ کرښې څخه خورا خوندي اډو ته ستانه شوي، تر څو په کمو مالي او ځاني تلفاتو د افغانستان جګړه رهبري کړي. جنګي مسئوليتونه يې افغان امنيتي ځواکونو ته ورسپارلي او هغه وسله چې تر اوسه د اشغالګرو ځواکونو پر وړاندې کارول کېده، له دې وروسته د مسلمانو ورڼو په مقابل کې وکارول شوه. بېشکه په داسې حالت کې د افغان امنيتي ځواکونو تلفات زياتېږي او دا ځواکونه د سون د توکو په څېر د يوه مصرفي ځواک په توګه په اورسيا کې د امريکا د سيمه‌ييزو موخو او ولکې د ټينګښت لپاره کارول کېږي. امريکا او د افغانستان دولت د تلفاتو د کمولو لپاره هېڅ کوم ميکانېزم نه لري او يوازې د سرتېرو د مړو په شمېرلو بوخت دي.

نو لازمه ده چې د افغانستان مسلمان خلک د خاينو چارواکو او د دوی د بادارانو خيانت او د دې چټلې جګړې واقعيت درک کړي او پرېنږدي چې د خپلو اولادونو د وينې په بيه يې په افغانستان کې د امريکا جګړه‌ييز ماشين په حرکت راشي؛ بلکې هڅه دې وکړي چې د افغانستان د مسلمانو ځوانانو انرژي او ځواک د اسلامي دولت، د اسلام د حاکميت او د استعمار د جرړو په ايستلو کې مصرف شي، نه د اشغالګرې امريکا د حاکميت په لاره کې، چې هره ورځ يې لاسونه د افغانستان د مسلمانانو په وينو سره دي او ماشومان يتيموي، ښځې کونډې کوي، کورنۍ بې سرپرسته کوي او د وير پر ټغر يې کېنوي.

**د حزب‌التحرير - ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر**